انجنير سيد عبدالقادر

۳۱ـ ۱۰ ـ ۲۰۰۸

## اي وطنه !

ستا بچوني به لا س يو كړي په خپل ننـګ به دي ساتي
د هر غليم مخ به ور تور كړي ستا فرهنګ به درساتي
تـــا روزلـــي اتـــلان دي نن هغــو قســم خوړلــــي
د ميــــوند په سرو نيزو او تورو شرنـــګ به دي ساتي

## پريږدي چې افغان غيور ملت خپله راتلونكي خپله وټا كي !

د څو هفتو راهيسي د افغان جمعي رسانو له لاري په افغانستان كي د ولس مشري د ټول ټاكنو له پاره پر مختلفو احتمالي كانديدانو باندي د مختليفو زاويو څخه مختلفي ليكني او نظريي وړاندي كيږي. او د ځينو احتمالي كانديدانو نومونه هم په ګوته سوي دي. چي شايد په راتلونكو ټول ټاكونو كښي خپل ځانونه د جمهوري رياست د پاره كانديد كړي. لكه محترم (كرزي)، جلالي ، خليل زاد ، ډاكتر داود ميره كي ، رمضان بشر دوست ، داوود) **او د افغانستان په داخل كښي شايد نور شخصيتونه هم خپل ځانونه و دي مقام ته ونوموي.** په دي اړوند د ځينو افغاني او خارجي جمعي رسنو له لاري هم مختلف افغاني سياسي كارپوهانو او روشنفكرانو پر احتمالي كانديدانو باندي د هغوي د كار د وړتيا او نه وړتيا په هكله مختلف نظرونه وړاندي كړي او كوي يي. **د انتخاباتو په دي تبليغاتي كمپاين كښي شايد هر كانديد او د هغوي پلويان** د افغان لاس تړلي ملت د فريب، چل او چم له پاره د تيرو اوو كالو په څير د قانونيت مشروعيت، ډموكراسي، د مخدره موادو او تروريزم پرضد د مبارزي او د بيكاري دمنځه وړلو ږغونه پورته كړي. او په دي درشل كي ځينو احتمالي كانديدانو و د دوي پلويانوخپل تبليغاتي تيره غشي د محترم كرزي آدرس په نښه كړي دي، هغه دا چي:

د كرزي مخالفين په داخل او خارج كښي د ده د حاكميت ناخوالي د دوي په قول يعني دخارجي قواوو او دولت تر منځ د ګډي سترا تيژي نشت والي، د تروريزم او مخدره موادو پر ضد د مبارزي ناكام والي ، د اداري فساد لوړه كچه او د زړو جنګ سالارانو تقويه او د نوو جنګ سالارانو ظهور او د هغو پرمختګ. ولي محترم كرزي هم په خپله مصاحبه كښي كوم وخت چي يي غوښتل خپل

ځان په نوو ټولټاکنو کښي د کانديدپه توګه اعلان کړي ، نو د خپلو خبرو په درشل کښي داسي وويل : که زه بيا په ټولټاکنو کښي بري ترلاسه کړم هغه ځيني کارونه چي پاته دي هغه بايد تر سره کړم. نو ولس ته معلومه نه سوه چي کوم کارونه ؟ د ملت د شتمنيو ډيره برخه خو يي پرغربي تيکنوکراتانو او جنګ سالارانو باندي په ډيره سخاوتمندانه ډول تقسيم کړل، او ملت يي و تشي کاسي ته کښيناوه، اووځنګ ته يي د طالبانو د وخت امنيت هم ځيني واخيست. نو سوال دا دي چي نور يي کوم کارونه پاته دي چي بايد تر سره يي کړي؟ ولي بايد ووايو چي د پورتنيو احتمالي کانديدانو د جملي څخه يوازي ډاکټر ميره کي خپل پروګرام د ويلو په درشل کي په افغانستان کښی د يرغلګرو په ذريعه بشري جنايات يي تقبيح او پر افغانستان باندي د هغو حمله يي غير توجيه وبلله. ولي متأسفانه تر اوسه هيڅ يوه احتمالي کانديداو د دوي پلويانو و نه کړايسواي چي د افغانستان د آزادي يعني ديوه دقيق سيا سي حل ميکانيزم وړانديز چي د هغه د تطبيق په نتيجه کي زموږ په ګران وطن کښي د امپر يالستي نړي اشغال ته د پاي ټکي کښيښول سي ، ملت او جهانيانو ته وړاندي کړي. او يا دي د افغانستان د اوسني دولت اقتصادي ستراتيژي انتقاد او د خلګو په ګټه يي نوي وړانديز کړي وايي، کوم چي زموږ د مملکت ا قتصادي زير بناوي يي د بوش او تاچري د منفورو هيلو ښکار کړي. يعني د افغان ملت د ملي ګټو ضد آزاد بازار تر نامه لاندي يي د ملت اقتصادي زير بناوي فلج او په لس هاوو تخصص لرونکي انجنيران او ماهر کارګران يي پر کورونو باندي لاس تنګي کښينول. چي نن د دي آزاد بازار په نتيجه کښي د يوي ډوډي پيدا کول هم ورته مشکله ده. او د مملکت اقتصاد ته يي دونه لويه ضربه ورکړه چي افغانستان يي په دي څو کلو نو کښي د منطقي په يوه مصرفي مارکيټ باندي تبديل کړي دي. ولي بر عکس د دي ملي شتمنيو په چورولو باندي جنګ سالاران او تيکنوکراتان د ملي تجارانو په نامه په غير مشروع ډول د لس هاوو او سل هاوو ميليونونو ډالرو خاوندان سول.

**ښکاره خبره ده چي د ټولټاکنو په دي تبليغاتي کمپاين کښي به هغه څوک د دي مقام ګټونکي وي ، چي د امريکا راتلونکي ولس مشر يي په افغانستان او منطقه کښي د خپلو اقتصادي او نظامي مخو له پاره لازم وبولي. نه د اچي د افغانستان خلګ کوم مشر تا به غواړي او څوک د دوي له پاره استقلال ، امن ، ثبات او پرمختګ راوستلا يسي. ولي ډيره د تعجب خبره په پخوانيو او اوسنيو د ټولټاکنو په تبليغاتي کمپاين کښي خو لا دا ده چي و دي امريکايي سياسي لوبي ميدان ته ولي داسي کسان ور درومي ، کوم چي هغه د امريکا او انګليس امضاء د ځانه سره نه لري. نو هدف د دوي په دي امريکايي سياسي لوبه کي څه دي؟ دا ځکه چي د امريکا او انګليس تر رهبري لاندي د اشغالګرو هيله هم دا ده چي د دوي په دي لوبه کي ځيني پاک شخصيتونه هم داخل سي٠ چي د دوي ودي سياسي لوبي ته يو مصنوعي مشروعيت ورکړي. چي په نتيجه کښي د امريکا او انګليس د وارده سوي ډ موکراسي تمثيل پکښي څرګند سي. ځکه نو په داسي حساسو تار يخي شيبو کښي بايد افغان ملي ګټو ته وفاداره شخصيتونه او په مجموع کي ټول وطن پرسته روشنفکران به ډير احتياط او د ملي ګټوپه نظر کي نيولو سره قدمونه واخلي. د اځکه چي افغانستان په اوس مهال کښي د امريکا او انګليس تر رهبري لاندي د۳۷ مملکتونو په نوي امپرياليستي استعماري زنځيرونو کښي بند راغلي دي. وران اقتصاد يي نور هم د اشغالګرو له خوا څخه د جنګ و سرو لمبو ته ورپوري وهل سوو. چي په نتيجه کښي د دي ملت ميليونونه انسانان د دوي په قول د جهاني ټولني د شلو ميلياردو ډالرو د کمک سره بيا هم د تيرو اوو کلونو په څير په راتلونکي يخ ژمي کښي دوچي ډوډي ، د څښلو د پاکو اوبو او د استوګني د خيمود نشت والي تر تهديد لاندي راغلي دي. چي په واقعيت کښي دا ټول هغه څه دي چي د اشغالګرو د نظامی او اقتصادي مخو له کبله زموږ په ګران وطن کښي د افغان لاس پو څو واکمنانو په ذريعه تر سره کيږي. د پورتنيو عيني واقعيتونو په نظر کي نيولو سره بايد ووايو چي: د افغانستان په اوسنيو سياسي ، اقتصادي او امنيتي بدو حالاتو کښي به د پردو تر امنيت او لار ښووني لاندي دا مصنوعي انتخابات د خلګو له پاره کوم د خوشحالي زيري را وړي؟ دا ځکه چي وطن د پردو تر اشغال لاندي راغلي او امنيتي حالات يي په ډيره چټکي سره د بي امنيو پر خوا داسي روان دي**

، چي د امپرياليستي نړي ستر جنګي ځواک يي هم ګيچ کړي دي. په داسي حال کښي چي اوس د مملکت جنوبي ، جنوب غربي او شرقي سيمو کښي دولت تنها په ښاروونو کښي څه نا څه حاکميت لري. او نوري سيمي يي په امنيتي لحاظ تقريبأ د لاسه وتلي دي. او جنګ په دي اکثرو سيمو کښي د اشغالګرو او مقاومت تر منځ مخ په ډيريدو دي. او هم د وطن په شمالي سيمو کښي بي امنيو خپل ځان ښکاره کړي، او خلګ د بي امنيو د ګواښونو سره مخامخ سوي دي. او د بله طرفه د خلګو پر استوګنځايونو باندي د اشغالګرو د روز مره بمباردونو او په لس هاوو او سل هاوو د ملکي کسانو ( ښځو، کوچنيانو ، زړو، ځوانانو ) شهادت، او د خلګو اقتصادي سختو ستونځو د مقاومت ليکي نوري هم تقويه کړي ، او د اشغالګرو په مقابل کي په چټکي سره مخ ته ځ. ۰ نو په داسي ورانو سياسي او امنيتي حالاتو کښي به دا ټولټاکني په اسلا مي او افغاني لحاظ کوم مشروعيت ولري چي ولس دي ونکړايسي چي خپله اراده په ټولټا کنو کښي څرګنده کړي ؟ ځکه په مخکنيو مصنوعي ټولټاکنو کښي نه تنها افغاني چاروکو او جنګ سالارانو په خپل ښکاره زور سره درغلي وکړل ، بلکه د يونما استازو هم د ټولټاکنو په مرکز ونو کښي داسي درغلي وکړي چي په جهان کښي تر اوسه پوري ساري نه دي موندل سوي ، ولي حقيقت خو دا دي چي نن افغان وطن د امريکا او انګليس تر رهبري لاندي د۳۷ مملکتونو تر اشغال لاندي راغلي او دا غيور ملت يي په خپلو استعماري زنځيرونو باندي د ډموکراسي د پلي کولو او ترورېزم پر ضد د مبارزي په نامه د اسي تړلي دي ، چي د دي يرغلګر ځواکونو واکدارانو او په افغانستان کښي د دوي لاس پوڅو واکمنانو دا فکرنه کاوه چي دا جنګ ځپلي ملت به بيا دا توان پيدا کړي ، چي د ۱۹مي او ۲۰مي پيريو په څير د دي نوي امپر ياليستي نړي د يرغل په مقابل کښي دي هم د مقاومت او د خپل وطن او ناموس د فاع په خاطر دي په ډيره فدا کاري او سر ښندنه سره ځان سمبال او زموږ په مقابل کي دي راپورته سي. او د دوي داوو کالو مخکني خوب دي يو پوچ خيال کړي. ځکه نو په اوس مهال کښي د امريکا او انګليس نظامي او ملکي لوړ پو ړي چارواکي د افغان دولت د مخاليفينو(افغان مقاومت ) سره تر نظامي لاري د مذاکري لارغوره بولي. چی په دي اړوند محترم کرزي هم څو ځله په رسمی محافلو او مصاحبو کښي د طالبانو د مشرانو سره د خبرو او مذاکرو وړانديزونه کړي دي.

ولی د امريکا، انګليس او افغان دولت د سياسي حل وړانديزونه د افغان مقاومت رهبرانو ته په وطن کي د ريښتيني صلح او افغان ملي ګټو د ساتلو په هنداره کي نه بلکه په وطن کښي د خارجي لښکرو او افغان لاس پوڅي دولت د بقا په هنداره کي کتل کيږي. هغه دا چي د امريکا تر رهبري لاندي د ناتو واکمنان افغان مقاومت ته د صلح د راتلو له پاره د سالم سياسي تعقل او عيني امنيتي او سياسي حالاتو څخه ليري داسي وړانديزونه کوي، چي هغوي بايد د څو امتيازونو په مقابل کښي د مقاومت وسله پر مځکه کښيږدي ، اساسي قانون ومني او د يرغلګر ځواک د هيلو سره سم د دوي د کاروان سره يو ځاي سي . چي د انو په واقعيت کښي د افغان لاس تړلي ملت د فريب او چم له پاره تش په نامه خبري نور څه نه دي. دا ځکه چي په واقعيت کښي د دوي د وړانديزونو څخه هدف د افغان مقاومت بي له قيد او شر طه د هغو تسليمول دي. او د افغان مقاومت رهبري هم بايد په افغانستان کښي د صلح د راتلو، ملي ګټو او د افغانستان اوسني امنيتي ، سياسي او اقتصادي سختو ستونځو او د منطقي سياسي او نظامي حالاتو په نظر کي نيولو سره د دولت سره د مذاکري په وړاندي نوي نظر وکړي.

هغه دا چي : که د افغان مقاومت رهبري د فغان دولت سره د سياسي حل له پاره د مذاکري لومړي شرط دا کښيږدي. چي لومړي بايد يرغلګري ځواک د مملکت څخه ووزي نو وروسته بيا دوي حاظر دي د دولت سره د سياسي حل د مذاکري خبري شروع کړي. چي دا په واقعيت کښي په اوسني شرايطو کښي د امکانه ليري خبره ده. دا ځکه چي په اوسني حال کښي افغان دولت د يرغلګر ځواک په نه شتون کښي د بقا ديوه ساعت توان هم نه لري ځکه نه ځانته وفاداره مسلح قوتونه لري ، او نه په ملت کښي کومه د بقا پايه لري. نو په داسي سختو سياسي او نظامي حالاتو کښي ما د خپل نظره د افغانستان د کړکيچ د سياسي حل له پاره تقريبأ د دوو کلونو راهيسي

**د افغاني ویب پاڼو له لاري و خپلو افغانانو او ملګرو ملتونوته وړاندیزونه کړي دي. چي خوشبختانه د ملګرو ملتونویوه استازي محترم ډاکټر وحید وحیدالله هم یوه هفته مخ کښي ، د پیامي افغان د ټلویزوني شبکي له لاري څخه د افغانستان د معضلي د سیاسي حل لا پاره څه ناڅه مشابه نظر وړاندي ک. دلته به زه دخپلي پخواني لیکني څخه د افغانستان د لانجي د سیاسي حل وړاندیز دلته تکراراً را نقل کړم.**

زما په نظر روشنفکران باید د خپل تاریخي رسالت له مخي که دا روشنفکران د سیاسي احزابو په صفوفو کي متشکل وي ، او یا په نورو اجتماعي سازمانونو کښي ، او یا د هغو څخه د باندي د خپل ملت دپاکو ارمانونودپاره کاراوفعالیت کوي، په دي ټولوحالاتو کښي دوخت تاریخي غوښتنه د ه ، چي د خپلو ملي ګټو د پوره واک اخیستلو له پاره خپل ترمنځ د دي مقدس ارمان له پاره ګډ تفاهم ته سره ورسیږي. کیدلاي سي دا تفاهم د ( سیاسي مشترکو غونډو ، ملاقاتونو او یا د نورو جمعي رسانو له لاري که هم وي.) باید ژر تر ژر ه شروع سي. او په دي سیاسي غونډو کي باید د افغانستان د اوسني لانجي د سیاسي حل له پاره پر یوه داسي میکانیزم باندي کار او تفاهم وسي ، چّه دهغه د تطبیق په نتیجه کي نه تنها په افغانستان کي امن او ثبات راسي، بلکه د افغان ملت د ملي ګټو واک او اختیار هم باید بیرته دا غیور ملت په خپل لاس کي واخلي. ولي دا هم لازمه ده چي د داسي یو ه حیاتي او با ارزښته میکانیزم وړاندیز باید دیوه با صلاحیته منتخب کمیسون په لاس باندي و ملګرو ملتونوته او هم د جنګ دواړو طرفوته ورکول سي ، کیدلایسي د امیکانیزم د لوي افغاني تفاهم په نتیجه
کي پراخ او هر اړخیزه بڼه اختیار کړي.

**۱ــ د امریکا تر رهبري لاندي جهاني ائتلافي ځواک د افغانستان د دولت سره په ګډه او د افغانستان د دولت په مقابل کي وسله وال مقاومت باید بي له قید او شرطه اوربند اعلان او د ملګرو ملتونو له خواه دي دواړه طرفه د مذاکري ومیز ته راوبلل سي.**

**دواړه طرفه باید د نړیوال کنفرانس غوښتونکي سي . او د سیاسي حل پر دقیق میکان**

**۲ــ باندي موافقه سره وکړي .**

**۳ ــ دا کنفرانس باید د هیڅ یوه خارجي قدرت د نظامي اقتصادي اغیزي لاندي نه وي.**

**۴ ــ د کنفرانس ګډون کوونکي باید د افغانستان د اوسني حاکمیت او د دوي په مقابل کي وسله وال مقاومت سر بیره باید یو تعداد آزاد پر وطن مین کارپوهان د ملي ډموکراتیکو احزابو نماینده ګان او یو تعداد په ولس کي محبوب شخصیتونه وي.**

**۵ ــ د خارجي قواوو د وتلو زماني جدول دي داسي جوړ سي ، چه هیڅ نوع بي امنیو ته مخه خلاصه نه کړي.**

**٦ ــ که د خارجي قواوو د وتلو پر سر او زماني جدول باندي خبرو ځان ته مشکله بڼه اختیار کړل ، نو په هغه صورت کي دي د دغه معین وخت د پاره د ملګرو ملتونو د صلح ځواک را وغوښتل سي ، یا دي د اسلامي نړي د هیوادونو څخه تظامي پوځونه را وغوښتل سي. ولي په هم دغه ټاکلي وقفه کي باید په مملکت کښي ټولي غیر قانوني سلاح د هر ګروپ څخه چه وي راټولي او د ملي دفاع وزارت ته تسلیم کړل سي.**

**۷ ــ داکنفرانس باید د افغانستان دملي منافعو په نظرکي نیولو سره نوي موقته اداره جوړه او تر راتلونکي لویي جرګي تر جوړیدو پوري دولتي چاري مخ ته بوزي.**

**۸ ــ دا کنفرانس باید پر جهاني ټولني باندي زور واچوي چه د راتلونکو پینځو کلونو د پاره بي له قیده او شرطه خپلو اقتصادي کومکونو ته ادامه ورکړي. ولي د هرکال په آخر کښي باید دپیسو د مصرف دقیق راپور واخیستل سي او د نوي کال اقتصادي کومک پیسي د دولت په اختیار کي کښیښنول سي.**

**۹ ـ ملګري ملتونه باید د امنیت شورا ته وظیفه ورکړي چه په راتلونکو وختونو کي د افغانستان په داخلي چارو کي کوم خارجي هیواد مداخله و نه کړي.**